**د افغـــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۱/ ربيع الأول /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ١٤ /ميزان /۱۴۰۲هـ، ش**

# د ديني شعائرو او مقدّساتو درناوی ، او له تمسخر او سپکاوي څخه يې ځان ساتل.

أحمد ربي وأشكره ، وأشهد أن لآاله الا الله وحده لاشريک له، وأشهد أن نبينا محمداً عبده ورسوله ، أللهم صل وسلم وبارک عليه وعلى آله وأصحابه أجمعين.

**أمابعد: قال الله سبحانه وتعالى : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَا آمِّينَ** الْبَيْتَ الْحَرَامَ} المائدة: (۱-۲)

**ددیني شعائرو او مقدساتو پيژندنه:**

ديني شعائر او مقدسات هغه مبارکو اعمالو ، ځایونو ، وختونو ذواتو او اشخاصو څخه عبارت دی چې درناوی کول يې په مسلمانانو لازم دی او تمسخر او سپکاوی يې حرام دی.

ديني شعائر لکه چې د لفظ څخه معلوميږي په لغت کې د دين ظاهره او ښکاره نښو ته ويل کيږي.

او په اصطلاح کې د هغو عباداتو څخه عبارت دی چې په ډاګيزه او ښکاره ډول اداء کيږي لکه آذان، لمونځ ، د لمانځه جماعت ، جمعې لمونځ ، د اخترونو لمونځونه او قرباني. القاموس الفقهي (ص: ۱۹۷)

خو ځينې نور علماء د ديني شعائرو او مقدساتو د مصداق په عموم باندې قائل دي چې اسلامي شعائر او مقدسات هر هغه سپيڅلي اعمال او ذوات دي چې مسلمانان يې په احترام او درناوي مکلف دي چې هغه ځينې ځايونه دي لکه مسجدونه ، کعبه شريفه ، حجر الاسود ، مقام ابراهيم، مسجد الحرام ، مسجد النبوي، مکي حرم او مدني حرم، منى، عرفات، مزدلفه ، جمرات،مسجد اقصى ، او ځينې يې وختونه دي لکه رمضان المبارک مياشت ، د ذوالحجې لومړنۍ لس ورځې ، د محرم الحرام مياشت او ځينې نور بيا عبادات دي لکه د اسلام پنځه ارکان او ځينې نور بيا ذوات دي لکه رسولان او پيغمبران په ځانګړې توګه د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم مبارک ذات او شخصيت او ځينې نور بيا کتابونه دي لکه قرآن کريم او نبوي آحاديث.

خو يو شمير علماء وايي چې ديني شعائر او مقدسات د الله تعالى هر امر او نهى ده.

امام عطاء بن ابي رباح رح وايي: شعائر الله ټول هغه څه دي چې الله تعالى ورباندې امر کړی دی او يا يي ورڅخه نهی کړی ده . حسن بصرى رح وايي : شعائرالله د الله تعالى د ټول دين څخه عبارت دی او امام قرطبي دا قول راجح ګڼلی دی. أحكام القرآن (٦/ ٣٧)

شاه ولي الله دهلوي رح وايي چې تر ټولو لوی شعائر الله څلور شيان دي :( ومعظم شعائر الله أربعة : القرآن ، والكعبة ، والنبي ، والصلاة). حجة الله البالغة (ص: ١٤٦)

که چيرې د شاه ولی الله رح وينا ته ځير شو نو دده خبره د پورته ذکر شوي تفصيل خلاصه ده.

ځينې نور علماء وايې چې داسلام پنځه ارکان ديني شعائر دي لکه لمونځ ، روژه ، زکات ، حج چې همدا د ديني شعائرو او مقدساتو مصداقونه او مظاهر دي .
بناءً ويلی شو چې ديني شعائر او مقدسات قرآن کريم او د قرآن کريم اهل ، د قرآن کريم تلاوت او قرائت ټول د يني شعائر دي چې علماء کرامو قرآن کريم دديني شعائرو ستره نښه او ددين اساس ګرځولی دی؛ ځکه چې قرآن کريم د نورو ديني شعائرو سرچينه ده.
همدا راز پيغمبران بالخصوص سرورکائنات حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د دين تر ټولو ستره شعيره او نښه ده ځکه چې ټول ديني شعائر د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د پيغمبرۍ محصول دي.
لمونځ او د لمانځه متعلق اعمال لکه آذان، اقامت، اودس، د لمانځه جمع او جماعت ټول ديني شعائر او مقدسات دي.
همدا راز روژه او د روژې مياشت او د روژې متعلق مسائل او احکام ديني شعائر دي .
همدا راز زکات او په زکات پورې تړلي کارونه په ديني شعائرو کې شامل دي.
همدا شان حج او عمره او حج پورې متعلق اعمال ، ځايونه او مناسک ټول په ديني شعائرو کې شامل دي.
خلاصه د خبرې دا چې ديني شعائر او مقدسات ټول هغه ديني امور دي چې ددين لپاره نښه ، علامه او مظاهر ګڼل کيږي او داسلامي شريعت د پيژندلو نښه وي ، چې په دې ديني شعائرو او مقدساتو کې ځينې ډير بارز او لوی دي او ځينې متوسط او ځينې بيا لکه دسنتو او مستحباتو په درجه کې قرار لري.

## د دينی شعائرو او مقدساتو درناوی کول:

د ديني شعائرو درناوی د الله تعالی د اوامرو په منلو او د الله تعالی د نواهيو څخه دډډه په ساتلو کې ده.
د ديني شعائر او مقدساتو درناوی د دغو شعائرو او مقدساتو منل او پر هغو عمل کول او د هغو قدر او احترام ساتل دي او د شعائر الله له بې احترامۍ او سپکاوي څخه ځان ساتل دي.
دديني شعائرو او مقدساتو درناوی د زړه د صلاح، استقامت او تقوا نښه ده او بالعکس د ديني شعائرو سپکاوی د زړه د فساد علامه ده. الله جل جلاله فرمايلي دي:{ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ}.الحج: (٣٢)
ترجمه:- دغه (حکم بيان شو) او څوک چې دالله د نښو تعظيم وکړي نو بيشکه دا د زړونو د تقوا څخه دی.
دا ځکه چې د ديني شعائرو او مقدساتو درناوی د زړه د تقوا او پرهيز ګارۍ او د ايماني قوت سبب ګرځي .
علامه زمخشري ددې آيت په تفسير کې وايې: د شعائر الله تعظيم په دې علم درلودل دي چې د شعائر الله مراعت او حفاظت واجب دی او بيا ددې واجباتو پر ځای کول). الکشاف عن حقائق التنزيل (٣/ ١٥٥)
په قرآن کريم ديني شعائرو ته ( حرمات الله) هم ويل شوی دی. الله جل جلاله فرمايلي دي: {ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ} الحج: (٣٠)
ترجمه:- دغه (حکم بيان شو) او څوک چې د الله د حرمتونو (احکامو) تعظيم کوي نو دغه (کار) دده لپاره د خپل رب په نزد ډير غوره دی.
شاه ولی الله دهلوي رح فرمايي: مبنی د شريعتونو د شعائر الله پر تعظيم او درناوی باندې بناده او ديني شعائر، الله تعالی ته د قرب او نزديکت حاصلولو نښې دي... دديني شعائرو درناوی داسې دی لکه د الله تعالی درناوی او د ديني شعائرو او مقدساتو په اړه بې پروايې داسې ده لکه -نعوذبالله – دالله تعالی په اړه بې پروايي). حجة الله البالغة (ص: ١٤٥)
همدا راز د ديني شعائرو په تعظيم او درناوي کې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم تعظيم او درناوی پروت دی. او دديني شعائرو درناوی نه کوي مګر دروند او عزت مند شخص او دديني شعائرو سپکاوی نه کوي مګر ذليل او سپک انسان.
الله جل جلاله دديني شعائرو د سپکاوی او بې احترامۍ څخه منع فرمايلې ده. الله تعالی فرمايلي دي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ} المائدة: ٢

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسو د الله د شعائرو (ددین دنښو) بې حرمتي مه کوئ او نه د عزت منې میاشتې او نه د حرم د قرباني او دحرم د غاړکی والا څارویو او نه عزت من کورته د اراده لرونکو خلکو .
په حج او عمره کې د هغو شیانو څخه ځان ساتل په کاردي چې الله حرام کړي دي ، ځکه چې د حرامو شیانو په تحلیل کې د شعائر الله سپکاوی او اهانت راځي. في ظلال القرآن (٢ / ٨٣٧)
په اسلام کې د دیني شعائرو او مقدساتو دومره خیال ساتل شوی دی آن تر دې چې که چیرې په کوم فرش یا قالین باندې د الله تعالی نوم لیکل شوی وي د هغه فرش غوړول مکروه دي .
(بساط أو مصلى كتب عليه في النسج الملك لله يكره بسطه، والقعود عليه واستعماله) المحيط البرهاني في الفقه النعماني (٥/ ٤٠٨)
لاندې مبارک آیت هم د دیني شعائرو او مقدساتو په درناوي صراحتا دلالت کوي: {لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضاً} النور : ٦٣
ترجمه:- تاسو په خپل مینځ کې د رسول بلنه داسې مه ګرځوئ لکه ستاسو د ځینو بلنه ځینو نوروته .
چې ددې آیت د نازلیدو څخه وروسته صحابه کرامو به نبي علیه السلام ته په یارسول الله ! یا نبي الله ! آواز کولو او په ځینو وختونو کې به یې ورته په یا آبا القاسم آواز کولو.
د پیغمبر علیه السلام د درناوي او عزت په باره کې دا کافي ده چې الله تعالی وربانديې درود ویلی دی او مونږ ته یې هم امر کړی دی چې پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې درود ووایئ او پر پیغمبر علیه السلام درود ویل هغه وخت نور هم مؤکد شي چې د هغه مبارک نوم واخیستل شي.
لکه مخکې مو چې وویل د حضرت محمد مصطفی صلوات الله وسلامه علیه دټولو مقدساتو ستر مقدس شخصیت دی او په شخصیت کې عیب لټول یا د کوم عیب نسبت ورته کول ډیر ناکاره او حرام کار دی او داسې شخص چې نبي علیه السلام ته ضرر ورسوي د امت په اجماع سره هغه به قتل کیږي. الله تعالی فرمایلي دي: {إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَاباً مُهِيناً. } الأحزاب: ٥٧.
ترجمه:- بیشکه هغه کسان چې الله او دهغه رسول ته ایذاء (او تکلیف) رسوي الله په دوی لعنت کړی دی په دنیا او آخرت (دواړو) کې او ددوی لپاره یې سپکوونکي عذاب مقرر کړی دی.
په یو بل مبارک آیت کې راځي: {وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} التوبة: ٦١
قاضي عیاض رح په دې اړه لیکي: (أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى قتل متنقّصه مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَسَابِّهِ). الشفا بتعريف حقوق المصطفى (٢ / ٤٦٧ )
ترجمه:- ټول امت په دې اجماع کړی ده چې د نبي علیه السلام په شان کې نقصان لټوونکی د مسلمانانو څخه او کنزل کوونکی به وژل کیږي.
قاضي عیاض رح د پیغمبر علیه السلام د اهانت او سپکاوي په اړه لیکي: (اعْلَمْ وَفَّقَنَا اللَّهُ وَإِيَّاكَ أَنَّ جَمِيعَ مَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ عَابَهُ أَوْ أَلْحَقَ بِهِ نَقْصًا فِي نَفْسِهِ أَوْ نَسَبِهِ، أَوْ دِينِهِ أَوْ خَصْلَةٍ مِنْ خِصَالِهِ أَوْ عَرَّضَ بِهِ أَوْ شَبَّهَهُ بِشَيْءٍ عَلَى طَرِيقِ السَّبِّ لَهُ أَوِ الْإِزْرَاءِ عَلَيْهِ، أَوِ التَّصْغِيرِ لِشَأْنِهِ، أَوِ الْغَضِّ مِنْهُ وَالْعَيْبِ لَهُ فَهُوَ سَابٌّ لَهُ وَالْحُكْمُ فِيهِ حُكْمُ السَّابِّ يُقْتَلُ ). الشفا بتعريف حقوق المصطفى (٢ / ٤٧٣ ).
د دیني مقدساتو عزت او درناوی ساتل الهي حکم دی او دیني مقدساتو ته د ذلت او سپکاوی نسبت کول د منافقانو خوی او خصلت دی. د مدینې منافقانو د بنی مصطلق غزوه کې په خپل منځو کې دا وینا وکړه چې که چیرې مونږ مدینې منورې ته واپس راغلو مونږ به ذلیله خلک له مدینې څخه وباسو چې دد وی غرض مؤمنان او پیغمبر علیه السلام ؤ.

{يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَ ولله العزة ولرسوله و للمؤمنين ولكن المنافقين لايعلمون } المنافقون: ٨
ترجمه:- دوی وايې چې قسم دی که مونږ مدينې ته بيرته وګرځو (نو) تر ټولو عزت من (خلک) به له دغې (مدينې ) نه ترټولو ذليله (خلک) خامخا ضرور وباسي او عزت (خو) خاص د الله لپاره دی او دهغه د رسول لپاره دی او د مؤمنانو لپاره دی لکن منافقين پوهه نلري.

د پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم عزت او درناوی په ټولو خلکو فرض دی او پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته د سادګی او د ناپوهی نسبت کول او هغه ته ضرر رسول صريح کفر دی. الله تعالی ددې کفارو ددې خوی او خصلت په اړه فرمايلي دي:{ وَ مِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَ يَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ...} التوبة: ٦١
ترجمه:- او په دوی کې ځينې هغه کسان دي چې نبي ته تکليف رسوي او وايې هغه (اوريدونکی) غوږدی( دهرچا هرڅه اوري او مني يي).
کفارو به پيغمبر عليه السلام په مختلفو نومونو نومولو چې په دې کار سره به يې خپل کفر اضافه کولو او نبي عليه السلام ته به يې د عزت پرځای سپکاوی کولو. الله تعالی مؤمنان ددوی د وه مخې رذالت څخه خبر کړل او هغوی ته يې وويل چې نبي عليه السلام ته داسې آواز مه کوئ چې هغه لفظ د بنې او بدې معنا احتمال ولري: {يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقُولُوا راعِنا وَ قُولُوا انْظُرْنا وَاسْمَعُوا وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ } البقرة: ١٠۴
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی تاسو راعنا (لفظ) مه وائې او ووائې انظرنا (مونږ ته وګوره) او واروئ (حکم دالله) او د کافرانو لپاره ډير دردوونکی عذاب دی.
داچې د ديني شعائرو او مقدساتو درناوی فرض دی او سپکاوی يې کفر دی ، دهمدې وجی نه فقهای کرامو ليکلي دي چې که چيرې څوک د ديني مقدساتو سپکاوی وکړي او په ديني شعائرو پورې تمسخر وکړي په دې کار سره مسلمان کافر کيږي لکه څوک چې په مسجد پورې تمسخر وکړي. په مجمع الانهر کې راځي: (إذَا أَنْكَرَ آيَةً مِنْ الْقُرْآنِ وَاسْتَخَفَّ بِالْقُرْآنِ أَوْ بِالْمَسْجِدِ أَوْ بِنَحْوِهِ مِمَّا يَعْظُمُ فِي الشَّرْعِ أَوْ عَابَ شَيْئًا مِنْ الْقُرْآنِ أَوْ خَطِئَ أَوْ سَخِرَ بِآيَةٍ مِنْهُ كَفَرَ). مجمع الأنهر (١ / ٦٩٢)
په دې باب کې ځينې خلک ډيره بې باکي کوي او کفري الفاظ يي له خولی وځي.
د الله تعالی په ديني شعائرو او مقدساتو پورې خندا کول پخواني مخينه لري او دا د کفارو کار دی چې الله تعالی مونږ د امر کړی دی چې په داسې مجلسونو کې مه کينئ چې په کې د الله تعالی د آيتونو سپکاوی کيږي. الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي:{ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ } الأنعام: ٦٨.
ترجمه:- او کله چې ته هغه کسان ووينې چې زمونږ په آيتونو عبث بحثونه کوي، نو ته له هغوی نه مخ واړوه تر دې چې دوی له دينه په علاوه خبره کې مشغول شي او که چيرې شيطان له تانه (داحکم) هير کړي نو له ياديدلو نه پس له دغو ظالمانو سره مه کينه.
په ديني شعائرو او مقدساتو پورې تمسخر کول د منافقانو کار دی او بايد چې مونږ ورڅخه ځانونه وساتو.{يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ قُلِ اسْتَهْزِئُوا إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَا تَحْذَرُونَ * وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ * لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ } التوبة: ٦٤-٦٦
{ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ * وَقَالُوا إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ} الصافات: ١۴-١٥

د الله تعالی په پیغمبرانو پورې خندا کول د کفارو خصلت دی:{وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ * فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِآيَاتِنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَضْحَكُونَ} [الزخرف: ٤٦ - ٤٧

امام ابن حزم ظاهري وايي په نص سره ثابت ده چې هرڅوک په الله تعالی پورې ، یا په ملائکو پورې یا په پیغمبر پورې یا د قرآن کریم په کوم آیت پورې او په فرائضو پورې تمسخر وکړي پس له دې چې حجت ورته رسیدلی وي، داسې شخص کفر وکړ.الفصل في الملل والأهواء والنحل (١٤٢/٣).

دالله جل جلاله اسم مبارک د دیني مقدساتو په ډیره لوړه درجه کې قرار لري ،- نعوذبالله - که چیرې څوک د الله تعالی نوم په تمسخر او سپکاوي سره واخلي کافر کیږي. په مجمع الأنهر کې راځی:( إِذَا وَصَفَ اللَّهَ تَعَالَى بِمَا لَا يَلِيقُ بِهِ أَوْ سَخِرَ بِاسْمٍ مِنْ أَسْمَائِهِ أَوْ بِأَمْرٍ مِنْ أَوَامِرِهِ ...يَكْفُرُ). مجمع الأنهر (١ / ٦٩٠)

امام ذهبي رح په الکبائرکې لیکلي دي:( مِن كلام الناس ما هو كفرٌ صرَّحتْ به العلماءُ؛ منها: ما لو سَخِرَ باسمٍ من أسماءِ الله، أو بأمره، أو وعده، أو وعيده كفر). الكبائر للذهبي (ص: ١٥٧ )

ترجمه:- ځینې د خلکو خبرې کفر وي په دې علماوو صراحت کړی دی چې د هغې له جملې څخه داده چې که چیرې څوک تمسخر وکړي د الله تعالی په نوم پورې او یا دالله تعالي په امر پورې یا د هغه په وعد او وعید پورې، ده کفر وکړ.

امام نووي رح فرمایي: (ولو قال وهو يتعاطى قدح الخمر، أو يقدم على الزنا: باسم الله، استخفافاً باسم الله تعالى كفر).
همدا راز پیغمبران او مقدس اشخاص دي او دټولو پیغمبرانو درناوی کول فرض دي . که چیرې څوک کوم پیغمبر ته یا یوسف علیه السلام ته د زنا او فواحشو نسبت وکړي کافر کیږي. مجمع الآنهر مؤلف لیکلي:( وَيَكْفُرُ بِنِسْبَةِ الْأَنْبِيَاءِ إلَى الْفَوَاحِشِ كَالْعَزْمِ عَلَى الزِّنَاءِ وَنَحْوِهِ فِي يُوسُفَ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ). مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (١ / ٦٩١)
همدا راز که څوک په تمسخر سره ووایې چې زه نه پوهیږم چې نبي علیه السلام انسان ؤ او که پیری؟ او یا یې د پیغمبر علیه السلام کوم سنتو پورې تمسخر وکړ ، او یا د متواتر حدیث څخه منکر شو او یا یې وویل چې داسې مونږ ډیر اوریدلي دي، په دې ټولو صورتونو کې کافر کیږي. د مجمع الانهر مصنف لیکي:( وَمَنْ قَالَ لَا أَدْرِي أَنَّ النَّبِيَّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - كَانَ إنْسِيًّا أَوْ جِنِّيًّا يَكْفُرُ وَمَنْ اسْتَخَفَّ بِسُنَّةٍ أَوْ حَدِيثٍ مِنْ أَحَادِيثِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - أَوْ رَدَّ حَدِيثًا مُتَوَاتِرًا أَوْ قَالَ سَمِعْنَاهُ كَثِيراً بِطَرِيقِ الِاسْتِخْفَافِ). مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (١ / ٦٩٢)
په شرح الفاظ کې راځي چې څوک په ټوکو سره قرآن کریم یو آیت تلاوت کړي کافر کیږي.(من قرأ أية من القرآن على وجه الهزل كفر) شرح الفاظ الكفر للملا على القاري ص: ١٢٦
همدا راز شرعي او دیني کارونو او اعمالو پورې تمسخر کول کفر دی. ملاعلی القاري لیکي:(من أهان الشريعة أو المسائل التي لابد منها، كفر، ومن ضحک المتيمم كفر). شرح الفاظ الكفر ص:١٤٤
په فتاوی البزازیه کې راځي چې د دیني علماوو سپکاوی کول من حیث ددې چې دیني عالم دی کفر دی او څوک چې په ټوکو او مسخره سره په اوچت ځای کیني او خلک ورڅخه پوښتنې کوي استهزاءً او بیا یې په بالښتونو وهي دا کار کفر دی.الفتاوی البزازیه ٤٥٦/٢

قرآن کریم چې ددیني مقدساتو اصل دی ددې درناوی فرض دی او د اهانت او سپکاوی یې کفر دی، لکه په خبرو کې په مسخرو او ټوکو سره د قرأن کریم آیت لوستل کفر دی ځکه دا د قرآن کریم سپکاوی دی.البزازیه:۴۵۸/۲

همدا شان په دریا وهلو باندې قرآن کریم لوستل کفر دی. او چاچې د قرآن کریم په یو آیت پورې مسخرې وکړی ، کافر شو. البزازیه:۴۵۸/۲ و ۴۶۱

چاچې آذان کوونکي ته په جواب کې په تمسخر سره وویل: ( من هذا المحروم الذي یؤذن) یا داسې وویل چې دا آواز د اجنبیانو دی ، په دې سره کافر کیږي). شرح الفاظ الکفر ص:۱۷۰

## په حدیث پورې د مسخره کوونکي سړي سزا:

یو عالم د پیغمبر علیه السلام دا حدیث مبارک بیانولو چې نبي علیه السلام فرمایي : (ما مِن خَارِجٍ مِنْ بَيْتِهِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ إِلَّا وَضَعَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا بِمَا يَصْنَعُ) . کوم کس چې د علم په طلب کې د کور نه وځي نو دده د دې کار نه فرښتې دومره خوشحاله وي چې ده ته خپلې وزرې غوړوي، نویو زندیق کس چې دا حدیث و اوریده نو هغه د ریشخند او استهزاء په شکل وویل چې زه به نن په خپلو څپلو کې میخونه لږوم، او په زوره به خپې په زمکه وهم ، د دې دپاره چې د فرښتو وزرې ماتې شي. کله چې ده دغسې کار وکړو او په زوره یې زمکه په خپو و وهله ، نو ناڅاپه په زمکه را او غورځیده ، او ځای په ځای یې خپې شلې (ګوډې) شوې او یو څو ورځې روستو یې په خپو باندې خوړونکې خطرناکه بیماري ولږیده . چاچې دا واقعه نقل کړې ده هغه وایي چې ما ولیده چې دغه کس د ذلت په حالت کې په یو ځای کې پروت ؤ او په همدغه حالت کې مړ شو .

په اذکارو پورې مسخری کولی کفر دی.(وَيَكْفُرُ بِالِاسْتِهْزَاءِ بِالْأَذْكَارِ وَبِشُرْبِ الْخَمْرِ وَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ أَوْ قَالَ ذَلِكَ عِنْدَ الزِّنَى وَعِنْدَ الْحَرَامِ الْمَقْطُوعِ بِحُرْمَتِهِ أَوْ عِنْدَ أَخْذِ كَعْبَيْنِ لِلنَّرْدِ أَوْ عِنْدَ رَمْيِ الرَّمْلِ وَطَرْحِ الْحَصَى كَمَا يَفْعَلُهُ أَرْبَابُ الْفَأْلِ لِأَنَّهُ اسْتَخَفَّ بِاسْمِ اللَّهِ تَعَالَى). مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (۱ / ۶۹۳ )

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي :

## د ټولو طالبانو او علماوو تحقیر موجب کفر دی :

سوال :- څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس د طالب العلم بې عزتي وکړي یا هغه ته د ذلت او حقارت په سترګه وګوری یا طالبی ته سپک وګوري ، نو د دغه کس نکاح ما تیري او که نه ؟بینوا توجروا المستفتي دکاندار ، ګل بانړه ، مردان

الجواب :- د عالم او طالب بې ادبي حرامه ده ، لکن ارتداد نه دی ، لهذا دې سره په نکاح باندی کوم اثر نه پریوځي ، البته هر ډول تحقیر او بغض په حقیقت کې د دین تحقیر او بغض دی او موجب د کفر دی ، کما یشیر إلیه کلام القاري في شرح الفقه الأکبر وهوالموفق